**لیکونکو**: مارکوارمیرو (Marco Armiero) اشلی داوسون (Asley Daeson)
او ا یتیمکا ن تورن (Ethemcan Turrhan)
**منبع او دخپریدو نیټه**: **کونټر پنچ «2018-10-26»**
**ژباړونکی**: پوهند وی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# ببوزلي ، بډا او کډوال

## *The poor , The Rich and The Immigrant*



**د عکس سرچینه د نوبتیریک شبکه / CC 2.0 2.0**

په کا ل (2016) کی د ګلومی (gloomy) تلویزیون دخپل تلویزیون په آینه ( ما نیتور) کي د تور اوسپین په رنګ یوسریا ل دقهر او عصبا نیت په محتوی اومضمون له پرد یو حخه دډار اویا دویری ترعنوان لاندی چی د کډ والو د پا ره ځا نګړی شوی وه نند ا ری ته وړاندی کړ د علمی ، تخیلی ا ستعا ری (دا لفا ظو مجازی استعما ل ) په کاروړلو سره داسی انخور شوی وه چی دولت دا توان اویا زور لرلی چی د خلکو په ذهنیتونو کی دستکا ری وکړی کوم چی هغوی ونشی کړلی چی کډ وال دا نسا ن په څیر وګوری بلکه ګډوال د ځنو هیولا اویا دیو (دیو) په بڼه له مینځه ویسی اویا هغه نا بود کړي اودا په دی

توګه سره کله چي يوسرتيرى ددى ډول هيولا سره مخامخ اويا دهغه پواسطه سره ملوث شى نود لته انتظا ر دادى چى دغه ملوث او ککړ شوى سرتيرى هم د همغه هيولا په څير راواوړى او بيا د يوروايتى راتاويد نى يا په يوه چرخش سره دهغه په مقا بل کى را مخ ته شى يعنى چى هيولا ديو ويروس يا اجنى مواد( antigen) په عوض دهغه سرتيرى په بد ن کى ترزيق کيږى يا ننوځى او د هغه سرتيرى بد ن د هيولاپه مقا بل کى د هغه ضد (antibody ) جوړوى او په دى بنه سره غواړى چي د حکومت د کنترول څخه ځا ن آزاد کړي او ځان داسى عيا ر کړى چى دنورو انسا نونو په سرشت اوپه طبيعت با ندى ځا ن پوه کړى اويا يو څه بلد تيا تر لاسه کړي – لذا په هر صورت دتلويزيون په توره هنداره کي په کلى بڼى سره آنځورونه پايلى نه درلود او هغه سرتيرى چى د هيولا په څير راګرځول شوى وه دهغه انځورپه دوامدار بڼى سره دنورو انسا نا نو د شکا ر کولوپه منظور کوم چى دا هغوى په رسميت سره نه پيژند ل له سره تکراريدل نو په دى شا ن سره تخيلى علم اويا پوهه کولاى شى چى داوس خبرى دراتلونکى د پا ره د يوه انځور يا د يوه خيال او حد س په توګه وړاندى کړى .

هغه وخت چي ديوالونه ونړيد ، اغزن سيمى وشليدل او بند کړل شوى پولى را خلاصه شو نوداسى يوزمينه رابرابره شو چي ټول بډا او ثروتمند هيوادونه زيا رووبستل چي خپل ځا ن د کډوالو ددى طوفا نى هجوم اوراتګ څخه کوم چي هغوى له جنګ ، بى وزلى ، ځورونى نفاق اچونى زورزيا تى ، تاوتريخوالى اود ژوند د نا وړى چاپيريا ل له امله مها جرت او کډوا لى ته مخه کړى – جدا اوبيل کړي نو همدا وخت دى چي فا شيستى ، نژداد پرستى اوناسيوناليستى جنبشونه يا ډلى ټپلى ديو زهرجن روايت د ترويج اويا د روزلو د پا ره ديو مساعده زمينې د ترلاسه کولو په لټه کى شول چي د بهر(د با ندى) په وړاندي طبقا تى خصومتونه اود تا وتريخوا لى د لمن د پراخيدو دپا ره بيا له سره سره راهنمايى او لار ښونه وکړى. نړيوال نخبګان په شد ت سره په دى راضى اويا متقاعد کيږى ترڅو چي دکارګرانو يو زيا ت برخه داسى قانع کړى چى د تا سو د ژوند د حالاتو اود شرا يطو د خرابيدو او هم ستا سو دحقوقو دانډول او هم د نيوليبرال دهوسا دولت له مينځه وړل اويا د بى ثبا تى اصلى عا مل د کډ والو دراتګ له امله دى نه د ثروت د توزيع د نا برابرى څخه. لهذا دا ډول ګرم او ا لتهابى خبرى او تبليغا ت هغه څه دي چى دتروريزم دظهور د پار لاره پرانځى اودغه انديښنه له مينځه وړى چي تروريستان نه په اروپا کى زيږيدلى اونه هم دلته وده کړى بلکه هغوى ټول له بهر څخه دلته راغلى دي نو دضد نژاد پرستى يا د دى کډوالو په ضد يو لاريون کى دا سى شعار ورکول کيد ل اوهغه داچي « **ستا سو د ښمنا ن د لته په کشتى کى سره نه دى راغلى بلکه په لوموزيل يا تيز رفتا ر موټر کى راغلى دي .** » .

داروپایی غړو هیوادونو اویا ددولتو داتحادیی خطری حا لت  یا وضیعت  په  یوه نقطه کی سره انغښتی دي . دلته نه دالما ن په مرکز او نه هم  دالما ن دزیاتوپولو کوم چي  دګا وند یو هیوادونو سره لري ، وشی کړلی چي د کډ والود مخکي په زیا تید و ښی اړخ نژاد پرستا نو په مخ کي د پ شی او   یا دهغو پر خولو با ندی برغولی کیږدي ستونزمن ښکا ري.  دالمان دداخلی وزارت  وزیر ښاغلي **هورست سی هوفر**( Horst  Seehofer)  څو اونی  مخکی دالمان  له صدراعظمی  آغلی « انګلا مرکل» څخه وغوښتل  چی د ا لما ن پولی دتپولو هغو کډوالو په مخ کوم چي  داروپا یی  هیوادونو لکه  داتریش ، اویا د ایتا لیا څخه غواړی  چي ا لما ن ته ور ننوځی  دتړلو امر ورکړي ،**مرکل** هم دخپل ایتلافی حاکم  دولت د نجا ت او  د مصونیت  اوهم د  سیا سی  او لیبرا لی  اقتصا د د پیا وړی  کید و موضع    کوم چي د څو لسیزو څخه را په دی خوا داروپایی غړو هیودو پام ځا نته اړولی دی  اوهغه هم چی د فسا د په وړاندي  په رضا یتمندی سره د تاوتریخوالی  پلی کول دی  په هڅو اوپه اند شروع کړی دي. نو دهمدی  توافقنامی  اویا دپردیو څخه  دډار له امله  «**انګلا مرکل**»  وړاندیز ورکوی چي ا لما ن  باید  د داخلی مهاجرو  دوضیعت او دهغو د ژوند دحالاتو اود شرایطو  دڅیړلو د پا ره  یوه قوی ارزیا بی کونکی اردوګاه پرانیځي  اوپه ډاډه زړه وڅیړی  چی هغو کډوالو چی د موقت مودی د پا ره مخکی له دی نه چی ا لما ن ته واوړی هلته په میشته شوی هیواد کی ځا ن راجستر کړی وی  بیرته همغه هیواد ته ولیږل شی   او  پس له دی  نه  با ید چي دا لما ن د تپولو پولو څخه جدی څا رنه ا و نظا رت ترسره شي  او مسولو مقاماتو مجبور او مکلف وګرځول شی  چي هر مهاجر دپولی پر سره  پوره  وڅا ری  چي ا لبته  په احتما لی بڼی سره  په پولو کي   یولړ معیارونه  د یو څه  ژور  نژادی  مشخصا تو له مخی هم  با ید په نظر کی ونیول شي  یعنی هغو چی  ا لما نی نه ښکا ری نو دهغه اسنا د اودهویت پا نی په ډ یر د قت سره  با ید وکتل شی .اوهغوی چي پخپل لاس کی رنګه قرمزی پوښه اروپایی پاسپورت لری ضرورنه دی چی هغوی زیا ت تم کړل شی . بلکه هغو ته با ید اجازه ورکړ شی چی  د سا تونکی له غرفی او کړکی څخه زر تیر شی .

د« **انګلا مرکل** » امتیا ز د کډ والو یا د پردو څخه د ډا ر په اړین غوښتنی   په موثر بڼی سره  ددی باعث کیږي  یا   هغی ته دا چا نس ور په برخه کیږی چی د بیګا نه د ډار دمسلی په پلمی سره  خپل لیبرا لی  نظم له  تعرض  څخه مصو ن   وسا تي یعنی چي  «**مرکل**»  د باربرین  (Barvarian)  دافراطی  ښی اړخو دغوښتنو په طرف  دخپل ایتلافی حاکم  دولت د خوندی سا تلو د پا ره وشو کړلي  چي  په قا نونی  توګه  سره  یو ځا ی نا ستی حزب  ته ، راسته اړخ افراطی حزب (AFD)  مجبورکړی ترڅو چي د سیا ست شرطونه داروپا په یو خورا پیا وړی هیواد (جرمنی)  کی ومنی .له دی نه چي پوه شوچي «**انګلا مرکل**»  څرنګه

ښی اړخ خواته حرکت وکړ دیا د ونی یو وړ مطلب دی چې هغه یعنی « **انګلا مرکل**» په اصطلاح سره دغه روش چی باید دا لما ن په دننه کی د کډوالودا رزیا بی دپا ره یو ځیرنیز مرکز یا (ترانزیتی مرکز) پرانیځی له **ویکتور اوربا ن** (Victor Orban) مجا رستا نی ځخه په عا ریت سره ترلاسه کړی لکه هغسی کوم چی تر ننه پوری لیدل کیږی هغه د لیبرا لی اروپا ارزښتو نه دی لکه استبدا د (authoritarianism) اوارتجاعی (nativism) یا نا سونیالیزم .

داسی په نظرراځی چی داروپا حاشیوی یا ځنډ نی هیوادونو لکه په ایتا لیا کی تول شیان په ورته بڼی سره دی ، لکه هسی چی د دی روان کا ل په پسرلی کی ا یتا لیا په تول تا کنو کي د سخت دریزو نا سیونا لیست **لګا** (Lega) اود **پروتیین** (Protean) اود **متزلزل** پنځه ستوری (unstable five star movement) د جنبش په ګډون سره یوه ایتلافی دولت جوړ کړل ، که څه هم وروستنی حزب یا جنبش د سیا سی طبقه بندی کولو ځخه ډ ده کول اود ایتلافی حکومتونو سره د یوځای کید و د هڅو د رد او د نه تا یید تاریخ لری، اما نن لیګا(lega) په کلی توګه سره دکډوالو ضد سیاست خپله کړی دی مثلا د بیلګی په توګه دغه دولت ژمنه کړی چی له ایتا لیا ځخه (500000) مهاجر اخراج کړی دلیګا (Lega) مشرښاغلی **ما تیوو سا لبینی** (Matteo Salvini) خپل ګوند دسیمی ایز خپلواکه غورځګ ځخه( چي د جنوبی میشتو ایتا لیا یا نو برلاسی پرالبا نیا یا نو اوافریقا یا نوباندی ترسره کول ) په یو سیا سی ځواک واړول او په عمده بڼی سره، هغه پر کډ والو با ندي حمله اوغورځنګ وکړ،**سا لبینی** ( Salvini) په موجوده حا ل کی داروپا اتحا د یی د **دو بیلین** (Dublin) دتوافقنامی سره مخا لف دی اوداسی الزام لګوی چی هغه هیوادونه کوم چي کډوال د لمړی ځل دپا ره راجسترکړی دی ، مسولیت لری چی هغه راجسترکړشوی مهاجر پخپل هیواد کی وسا تی او پری نیږدی چي نوموړی مهاجر بل اروپا یی هیواد ته کډه وکړي .اوداځکه چي زیاتو کډوالو دا غوره ګڼی چی لمړی ځان ایتالیا ته ورسوی اوبیا په آسا نی سره شما لی خواته حرکت وکړی ځکه چی دغه شما لی برخی د قوی اقتصا د ځښتن دی اودمها جرانوتوګنه هلته تشکیل شوی دي نو په دی توګه په ا لما ن کی د مهاجرانوبحران ته پا م سره زیا ت اروپا یی هیوادونه د دی وضعی سره په مخا لفت کی دی اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره ملګری ملتونه ( پرتګا ل ، ایتا لیا ، اسپا نیا او یونان) هیوادونو باندی فشا ر اچوي چی مهاجر یا کډ وال ومنی یعنی چي د کډوالو کوربه توب وکړی .

**سا لبینی** (Salvini) دخپل ګوند په لفظی حملاتو سره پر جنوبی ایتا لیا یا نو او میشتو کډوالو باندی چی دنورو هیوادونه ځخه راغلی دي خپل زورزیا تی زیاته کړی اوخپل امنیتی

ځواکونو سره بسیج کړی کوم چې الما ن دهغه په دی نژاد پرستی پا لیسی با ندی نیوکی کوی **سا لبینی** (Salvini) کولای شی چې په بروکسل کی داروپا یی اتحاد یی دبیروکراتا نو دمنا فقا نه ترکیبونو ترمینځ سیا سی شخړی ته مخه کړي او په دموکراتیک بڼی سره دایتالیا ټول غوښتنی څرګند اوپه ډاګه کړي ، ایتالیا تر اوسه پوری څو ځوواره خپل پولی دکډوالو په مخه بند کړی دي اونه یوازی دهغه کسانو په مخه چې دغیردولتی سازما نونو په بوړډ کی سا تل شوی ، بلکي آن دهغه څو ک په مخکي چې دایتا لیا د بحری مسولینو لخوا ژغورل شوی وه دځنو ځارنوالانو په وینا ، دکشتیو څخه دمهاجرانوراښکته کول منع شوی وه اوداځکه چې داعمل د سړی تښتونی مفهوم لری او هر هغه څوک چې په دی عمل لاس پوری کړی وی هغه یوجرمی عمل دی چې باید محا کمه شي .

البته چې دا ډول موقفونه او یا مقا مونه دریا کا ری پر ستنو یا پا یو باندی ولاړ وی ، ایتالیا په واقیعت کی د جرمنی په پرتله لږ مهاجرین منی سره دهغی چې ددی کډوالوما لی لګښت چې په ایتا لیا کی میشته کیږی داروپا د ا تحا د یی له خوا تمویل کیږي ، او دهمدی اصل په نظرکی نیولوسره داروپا اتحا دیی له ایتا لیا څخه غواړي چې کډ والو کله چې د ا یتا لیا سواحلو ته رسیږی هغو ته اجا زه ورکړی چې ا یتا لیا ته ور ننوځی- **سا لبینی** (Salvini) پرته له هغه چې د اروپا د ا تحا د یي په اړین لفظی سپک او سپوری ویل اوس داروپا د ا تحا د یي څخه دوتلو اراده نه لری اوداځکه چې د اروپا د ا تحا د یی څخه دایتا لیا وتل ددی موجب ګرځی چی د شما لی ایتا لیا د شتمنواو د ثروتمند ا نو با نکی حسا بونو ته ضرر رسیږی یعنی هغه ثروتمندان اوبډا یا ن کوم چې د هغه دلیګا دجنبش (Lega) اصلی پلویان دي .

برسیره پردی ، دا ټول نسلپا لنه (نژادپرستی) داروپا د ا تحا د یی د پروژی موجوده تضا دونه د مینځه نشی وړلی اویا د هغه تضا دونو د پا ره د حل لاری هم نشي موند لي . لکه هغسی چې دا موضوع دیونا ن د پا ره یو ریښتینی بیلګی کیدای شی نو له دی وجهی څخه تر اوسه پوری داروپایی اتحادیی غړیتوب دایتالیا پر اقتصاد باندی ډیر زیا ت نا وړی اومهلک اغیزی درلوده چې په تیرو څو لسیزو کي یی (30) سلنه تولیدی ضا یعا ت درلود او د ا یتا لیا د ا قتصا دی پرمختګ کچه د فرانسی په پرتله ترنمیا یی پوری وه- ا یتا لیا داروپا دا تحا د یی د ا قتصا دی محد ود یتونو په دلیل هیڅ لاری نه لری چې خپل پورونه ادا کړی اویا دخپل زیربنایی پروژو دپا ره پورونه تر لاسه کړي اویا داچې د خپل مروج پیسی ا رزش دومره را ټیټ کړی چې وشی کړی خپل صا د را ت بین المللی نړی ته جاری وسا تی یا د نړی د تجا رانو پا م ځان ته جلب کړي دبلی خوا څخه دځوان ایتا لیا نو ترمینځ دکا رکولو یا داشتغال کچه له هغه وخته چې ایتا لیا داروپا د اتحا د یی غړیتوب

ترلاسه کړی دي دریکا رد په سطح کی ترسترګو کیږي .

ممکن دی چي تا سی په ریښتیا سره تعجب وکړي چي آیا دا ټول هڅی اواند چی دایتا لیا مسولو مقا ما توکوم چی دکډوالو په مقا بل کي ترسره کړل دعا مه خلکودنظراتو دبی لاری کول او دانحراف څخه په پرتله کي ډیر زیا ت نه وه ؟ اوهغه داچی نوی حکومت خپل هیڅ یو ا نتخا با تی ژمنی نه دی درک کړی اویا هغه ژمنی له یا ده ایستلی دی.

د **ترومپ** د کمپا ین ما ستر **ستیف بونن** (Steve Bannon) په دی وروستیو وختونو کی داسی اعلام کړي دي چي ا یتا لیا د نړی د شد ید و حقونو د زیا توالی په مسیرا و راستا کی یوله په زړه پوری تجربه کړل شوی اویا ا زما یښت څخه دی کوم چی د ملی ګرایی اود رادیکا ل پوپولیزم د ترکیبی یو کمپلکس دی – نو په دی وجهه ایتا لیا دا سی کوم قا بل د ملاحظی او استثنا یی هیواد نه دی تردی چی حتی د سویډ ن د سوسیا ل دموکرات مُد ل ته ورته د کا ل (2018) ټولټا کنوکی د افراطی ښی اړخ تر شد ید پا لیسی لاندی پریوتل یعنی چی ښی افراطی اړخ ته وا وړید ل کوم چی هغوی حتی خپل لوبی د کډوالو د پوستکی په رنګ با ندی هم ترسره کړل .

ښا یی چی د افرا طی ښی اړخ ګټونکی برازیلی نوما ند **جیربولسونارو**(Jair Bolsonaro) بریا دهغه یو له ډ یر سخت اوناوړی اعترضا تو څخه وی کوم چي هغه د ټا کنو په لمړنی پړاوکی درای ورکونکو (46) سلنه رای ترلاسه کړیا داچی شاید دهغه دبریالیتوب عا ملونه دهغه له بربنډ و شعارونو څخه وی لکه آزاد جنسی معا شرت ، نژاد پرستی همجنسګرایي اود ښکا ره فا شیستی نوستا لژی سره همغږي اوهمدارنګه په ښکاره بنی سره روښانه دي چي د نظامی د یکتا توری میراث دبرازیل د ننی ټولټاکنی ته یو دروند پیټی دسوغات په بڼه راولی ، هغه یعنی **جیرو بولسونا رو** تل خپل همدردی د نظا می رژیم سره ښودلی دي .

| | |
|---|---|
|  |  |
| Étienne Balibar | Jair Bolsonar o |

دداسی شرایطو لاندی دنژادپرستی دکچي زیاتوالی نن داروپا په اصلی هیوادونو اوهم داروپا په حاشیوی هیوادونو کی په ښکاره بڼی سره ترسترګوکیږي کوم چی **ا یتینی با لیبا ر** (Etienne Balibar) ددغه موجوده پراخه نژادپرستی په اړین داسی توضیحا ت ورکوي هغه وایی چی دغه پراخه نژادپرستی دخیال پردازی دحا کم لړلید د بیا رغونی یوشکل دی چي په واقیعت کی دا فسا نوی له لحا ظه دنړی په سرتاسرکی دپانګوالی دقدرت پراخید نه او زیاتوالی دي .

په هرصورت حیرانونکی اړیکی په مینځ دافراطی نیولیبرال نړی اودجا مد و یا دګاونډ یو هیوادونو دپولو د له مینځه وړلولپا ره هڅی اواند دي کوم چی هد ف دادی چی دغه موضوع نړیوال رنګ ومومی چی دموجوده جریان څخه په حقیقت کي ډیر د همغږی د منلو وړ دی نړیوال کیدل لکه هغسی چی مونږ پوهیږو نه یواځی د تیرو څو لسیزو څخه دګډو سرحدونو په پلی کولو با ندی سره غواړی چی په جوړ جا ړی راشی نو دا خپله په حقیقت یو څوک اویا کسا ن د یو بل کوم ځا ی اویا مکان څخه دی چی ددی نوملړ لویدیځ بریالیتوب ممکن کړی دي ، دا د یا دونی وړ ده ،اوهغه دا چی باید دکا لیو اود راکړی ورکړی آزادانه ګردش دهیوا دونو په پلازمینواومارکیټونو کی ترسره شی چي دا پخبله دنیولیبرالیزم دنوی مرحلی ډیر نوی او ځانګړی مشخصه دي کوم چي هیڅکله هم دخلکو سمبا لښت او توازن کیدل نه دي منلی حتی چی دنړیوال حقونو اومقررا تو څخه هم کمه او لږه دی اود بلی خوا څخه برعکس په نړیوال موجوده چاپیریال کی دقیقاً ارزان کار، منا بع اوطبعی زیرمی اودکا لیو دآزاد ګرد ش اودپا نګو نی تول آسا نتیا وی میسر دي لکه هغسی چی **ربکا سولنیت** (Rebecca Solnit) په حیراتیا سره مونږ ته یا دونه وکړه« دا پولی یا سرحد دومره بډا او ثروتمند دی چی مونږ ته بڼ یا باغ جوړوی ، نو د بڼ د دیوالونو هرډول تخریب او



Rebecca Solnit

اورا نید ل بڼ ته ضررسوی اویا دهغه پاکی اوصفا یی له مینځه وړی او بڼ ملوث کرځوی

«نو په دی دلیل سره دیوالونه به مونږ وژغوری ، خو، اما دا یو ساده اونارام کونکي پیغام دی چي بنوالانو په ډیر کرکه هغه د ما نتر(mantra) په بڼی سره تکرا روی اودهمدی منترپه تکراولوسره دداسی یو وسیلی اویا دلاری په لټه کی دی چی وشی کړلی دعامه خلکو ذهنیتونو ته انحراف ورکړی ، هغوی کډوال اخراجوی ترڅو چي دنړیوا ل د یو مجرب ټولني په اړین یولړ توهما ت « ډار» رابرابر کړل شی اودا یو ښکا ره واقیعت دي چي دکډوالو دتیریدو اوسنی لاری له پولی ، دیوالونو کوم چی د ښا رونو ، ښونځیو ، له شغلی او کا ری لارو اوحتي چی د بد نونو(bodies) څخه تیریږي ټول دکډوالو دعبور لاری دي همدا شان دا بلکل روښا نه دي چي ددیوال په دواړو خواو کی دخلکو په مینځ کی اجتماعی او دمحیطی ژوند نابرابری موجود دی یعنی چی دا نابرابری په نړیوال کچه هم په دنړی په شمال اوهم په جنوب کی ترسترګو کیږی، لاکن دا ډول نابرابری د دی نړی (سیا ره) په هریو برخه کی نا سوب نه دی یا په بل عبارت دا نا برابری ددی نړی په هر یوه برخه کی وجود لری – اما پرملی محاصرو سرحدونو او توکمیزی (نژادپرستی ) په اړه له سره دخبرو اترو را مینځته کول کومه ګټه نه راولی اویا داچي د خلکو ترمینځ مسا وات اوبرابری نشی پلی کولی - هغوی چی دیو واقعی ټولنی په دننه کی ژوند کوی ، هغوی به خوشحا له شی چي بیوزلی په یو لړ نورو ستونزمنو مسا یلو او یا موضوعا تو سره بخت یا مشغول شی یا داچی هغوی قصداً مثلاً د مها جرو پا م په چل او تقلب سره دهغوی ستونزو ته متمرکز کوی ترڅو چی خلکو دخپل ادعا څخه چي باید ثروت او شتمنی دخلکو په مینځ کی له سره تقسیم شی لاس پرسر شي .

دبلی خوا څخه ځنی خلک داسی واي چي مهاجرت شتمنو اودټولنی لوړو طبقا تو ته ډیر آسا نه دي ، دوی کولای شی چي په ډ یر ښه محله کی ژوند وکړی او هیڅکله په دی انتظا رکی نه اوسی چی کوم خیریه نها د هغوی ته کور برابر کړی یا هغوی دروغتیا یی خد ما تو ته دلاس رسی د پا ره هیڅکله لکه د نورو بی وزلو خلکوپه شا ن دانتظا رپه لیکو کی نه دریږی یا داچی هغوی خپل کوچنیا ن په عا دی ښوونځیو کی نه شا ملوی - داسی وینه څومره آشنا ښکا ری کوم چی ډیر ورته دچا پیریا ل دژوند په موردکی ویل شوی دی :«تر هغه پوری چي ګیډه په خوراک سره ډک وی هغوی دطبیعت په اړه دلوړ فکرکولو توان لری .» .

دزیست محیطی یا دمحیطی دژوند په برابر تیا کی یوائی دوامدارمبارزه او څیړنی ثا بت شوی دي اما مونږ په پوره قناعت سره با ور لرو چی دا سی نه دی – دا هغه وخت دی چی د کا رګری طبقی د اتحا د اود یوالی د پا ره با ید کا رپیل شی یا په پراخه توګه د نړی د شما ل په سرتا سری اود کډ وا لو په فرعی ټولنو کي هرشی باید چی په ډاګه او

روښنا نه شي او هغه داچې له کډوالو یا د پروڅخه له ډاره( xenophobia) وتل یاهوښیا رتیا ترلاسه کول نه با ید تقصیراوګناه وګڼل شی یا دهوښیا ر تیا له امله دګناه اود تقصیراحسا س وشی اوداځکه چې ټولنیز هستوګنی (social housing) کا ر نه کوی اود عا می روغتیا د سیستم فعا لیتونه لا پسی کمیری او هیڅوک نه غواړی چې خپل کوچنیان هغه ښو ځیو ته چې لیری اوپه ګوشه کی موقیعت لری ولیری اوداځکه چې مونږ ښه ښونځیو، روغتونونه او سوسیا لی کورونو ته ضرورت لرو نه د پردو څخه ډا ر( xenophobia ) ته اوداځکه چې د ډیرو زیا ن رسونکو خلکو لپا ره د ژوند د کیفیت ښه وا لی د له پرودو څخه ډار(xenophobia) غوره ځواب دي ، مونږ دروشنفکرانو په صفت دا فرصت لرو چې د ا روپا د نظا می کلا هغه دود یزی کیسه را بربند کړو کوم چې د **دونا لد ترومپ** له دیوال څخه ډ یر مهم دي ، هغوی وعده سپا رلی چي پرته د حقونو دترلاسه کولو وابستګی لری، اوهغوی په ډاډ من زړه یوارزانه پیژندنه تضمینوی کوم چې کوم ځانګړی وضا حت یا هڅو ته اړتیا نه لری دټولنیز حقونو څخه د چا څخه پرته دا حقونه ځواکمن یا پراخ نه دي لکه چې یو مشهور کارتون په روښانه توګه تشریح کوی ، مونږ په هغه وضیعت کي قرارلرو کوم چې په امتیا زی ښې سره (19) نفر د ډوډی پر میز د (20) نفرو ډوډی یا تیکلی خوری حال داچې بی وزلو ته وایي چې مراقب اوسی اوداځکه چې کډوالو هغه یو ډوډی چې په میز کی پروت دی غلا ونکړي

په پای کي اروپایی هیوادونه اودامریکی متحده ایالات دمهاجرو دارام بهیر او پرله پسی اوښتونو سره مخامخ دي که چیری مونږ داسی وګڼو یا داسی فکر وکړو چې نور هیوادونه نسبت له خپل ظرفیت څخه زیات شمیر مهاجرمنی نودهمدی دلیل له مخی مونږ باید یووالی او وحد ت ته اپیل یا غوښتنه وکړو اوهغه څه شی چې لرو هغه باید سره شریکه کړو یعنی چي بشردیولږ فشارونو سره چې نن مخامخ دی نوددغه موجوده فشارونو څیری اوشکل باید دیوبل شی سره بد ل کړو. اما په دغه مقا له کی همد ارنګه مونږ استدلال کړی دی چې مهاجرت د نا برابری د ښودلو د پا ره کا فی فرصت لری چې دغه نابرابری زمونږ دټولنو په هرځای کي وجود لری اودا هغه دیوالونه دی چې راکښل شوی دی کوم چې دهغه کسانو ترمینځ چې ددی ډلو څخه نه دی اویا داچې نه غواړی سره بیل کړل شی او یا چي نه غواړی سره تقسیم شی ددغه کښل شوی دیوالونو پواسطه سره بیل او تقسیم شوی دی . نو ددی نظر څخه دمهاجرو هرکلی کوی اوهغه هم نه یواځی دبشر دوستی یا دښه سلوک له نظره بلکه د یوسیا سی استراتیژی ، له نظره هڅی اواند دی چې با ید په یو محصور اویا کلا بند شوی ټولنه کی کوم چې هلته نه یواځی چي مهاجران بلکه (99) سلنه خلک سره چې ژوند کوی باید یووالی رامینځته شی وروسته له ټولو نه زمونږ ښوال دکوچنی بی قیدو

شرطو مهربا نیو دلاری پواسطه سره دانقلابی کا لیو یو تولنیز سیستم چي په هغه کي تل د مصا رفو اوعوایدو ، زیانونو اولاسته راوړنو توازن په نظر کی وساتل شی په نظر کي نیول کیږي خو مګر په واقیعت کی زمونږ د موکراسی په خطر کي دی البته چی نه د مهاجرینو له کلبه بلکه دفا شیزم اود نژادپرستی له کبله نو راځی چي له د موکراسی څخه د فاع او سا تنه وکړو دا به زمونږ دانسا نیت او د کډوالو لپاره هم به ښه وي .

## ددی مقا لی دلیکوالانو په مورد کي لنډ یز:

**ماركو آرميرير:** د سویډن په ستاکهولم کې د ټکنا لوژی د« KTH» شاهي انستیټیوټ کې د چاپیریال د بشري لابراتوار رییس دی. د هغه څیړنه په زهرجن فاضله موادو، مهاجرتونو او چاپیریال، د اقلیم بدلون او ښا ر، په ایکولوژیکي شخړو کې ، سا ینس او ځواک باندې تمرکز کوي. مارکو دوه مونوګرافونه، یو لاسی کتاب، پنځه تالیف شوي حجمونه، او تقریبا تر 100 مقا لو او( 100) فصلونو کتاب خپاره کړي. مارکو دسرمایه داری اود سوسیالیزم پر فطرت او د چاپیریال د بشري دحقونوپر موضوعاتو باندی د لوړ پوهی څیښتن دی

**ایشلي داسن** د فراغت مرکز / CUNY او د« Staten Island» کالج کې د انګلیسي پروفیسور دی. هغه د انسا نا نو د چاپیریال په اړوند موضوعا تو په اړه په دی وروستیوکی دوه کتابونو لیکوال دی، لوی ښارونه:( د اقلیم بد لون په وخت کې د ښا ري ژوند وعده او ژمنې) ورسو، 2017 ( ، او انقرا ض: O / R (A Radical History، 2016 )، او همدارنګه د شیړو پخوانیو کتا بونو مجموعه ، ټولنیز نړیوال عدالت د امپراتورۍ پر ضد .( هغه له اوږد مهال څخه (د نیویا رک د ښا ر په پوهنتون کي ( CUNY ) د جمعی - ټولنیز د متن غړی او د اقلیتي لابراتوار بنسټ ایښودونکی دی.

**Ethemcan Turhan :** د سویډن په( KTH ) رائل انستیټیوټ کې د چا پیریا ل د بشري حقونو لابراتوار کې د پوسټ ډاکتر( post Doctor) څیړونکی دی . نوموړی اوس مها ل د( Transforming social nature in Turkey) ترنامه لاندی د کتاب دتالیف کول په حال کي دي کوم چي دهغه کتاب په متن کي : په چاپیریال کې دچاپیریا ل د بشري سیستم لړۍ لپاره د وضعیت، حالت او چاپیریال حرکت باندی بحث شوی. د هغه څیړنه او فعا لیت د هوا د بد لون په شرایطو کې د اقلیم عدالت،انرژۍ ډموکراسۍ اومهاجرت باندې تمرکز کوي

## مننه

د دې جزويی ټول لیکوالانو د څیړنې پروژې یا د ( Occupy Climate Climate Change) ټول غړي دي! کوم چی دغه پروژه د سویډ ن د ادارې

*(FORMAS) لخوا د اقلیم لپاره مخکی ورل کیږی چی د سویدن ملي څیړنې یوپروګرام دی چی له (2017 -1962) څخه راهیسی فعالیت کوی (یعنی چی ددی پروژی مالی لګښت دسویدن له طرفه تمویل شوي یا تمویل کیږی. د دې توتې برخې لا د مخه په سویډن کې دموکراتا نو لپاره د(Handbook) په بڼه په کال (2018) کی چاپ شوي دي*

___________________ **په درناوی «2018-11-07»**